دافغانستان اسلامي امارت

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي رياست**

**د تحريراتو آمريت**

**د متحدالمآلونو څانګه**

د متحدالمآل ګڼه: ۳۸

نېټه: ۱۴۴۴/۶/۴ هق

☐عاجل ☐عادی ☐اطمينانيه ☐ابلاغيه ☐ساير

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر(۳۰)مورخ ۱۴۴۴/۳/۲۹هق په تعقيب داسي ليکو:

د افغانستان اسلامي امارت په محاکمو کي د شريعت مطهره مطابق د تعزير بالضرب فيصلې صادريږي او څکې تر دې چي د ستري محکمې د محترم مقام سره شريکي شي، په ابتدائيه يا هم استيناف محکمه کي تطبيقيږي او د يادو فيصلو د تطبيق په وخت کي عکاسي کيږي بيا په اجتماعي پاڼو(فيسبوک او داسي نورو) کي هم نشريږي.

اوسني شرائطو ته په کتلو د دغسي ويډيوګانو نشر د جامعې په اصلاح کي رول نه لري بلکي برعکس د اسلامي امارت په خلاف د يادو ويډيوګانو څخه استفاده کيږي نو په دې اساس مو موضوع د ستري محکمې محترم عالي مقام ته پيشنهاد کړه، عالي مقام يې په اړه داسي هدايت وکړ:

(( د محاکمو د لائحې (۲۷) ماده داسي صراحت لري: (د محاکمو عمومي رئيس صلاحيت لري چي د نورو محاکمو په تعزيراتي فيصلو کي د مصلحت په اساس د تعزير وخت او سزا زياته او يا کمه کړي...) نو په دې اساس، د تعزير بالضرب فيصلې د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر(۳۰) مورخ ۱۴۴۴/۳/۲۹هق د دغه هدايت: (د ابتدائيې، استيناف او نظامي محاکمو هغه فيصلې چي په ابتدائيه او استيناف مرحله کي قطعي کيږي هغه دي د اجراء د امر تر لاسه کولو لپاره تميز ته نه رااستوي خپله دي تطبيقوي...) څخه مستثنی دي، د اسلامي امارت ټول محاکم مکلف دي چي د تعزير بالضرب (دُره وهلو) فيصلې د تطبيق څخه مخکي د ستري محکمې محترم مقام ته راواستوي او د را استولو مخکي دې نه تطبيقوي.

او د اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام د دفتر رياست د مکتوب نمبر(۴۹ج۲) مورخ ۱۴۳۸/۸/۱۰هق مطابق د قصاص، حدودو، اعدامونو، وهلو او ټکولو په وخت کي ويډيوګاني او عکاسي بندي دي، نه به کول کيږي او نه به نشريږي ځکه دا کار

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لاری، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
تيلفون : ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس : ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af

په شریعت کي هیڅ اصل نه لري، نو په دې اساس، د تعزیر بالضرب فیصلو د تطبیق په وخت کي دې هم ویډیوګاني او عکاسي نه کیږي تر څو د مشرتابه محترم عالي مقام پورته ذکر شوی فرمان په پوره ډول تطبیق شي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې د محترم عالي مقام پورته ذکر شوی هدایت ددې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو، د پورته ذکر شوي هدایت مطابق ټول ابتدائیه او استیناف محاکم دې د تعزیر بالضرب (دُره وهلو) په اړه قطعي شوي فیصلې د تطبیق څخه مخکې د ستري محکمې محترم مقام ته را استوي کله چې د ستري محکمې د محترم مقام څخه د یادو فیصلو د تطبیق امر ورکړل شي، تر هغه وروسته دې د ستري محکمې د محترم مقام د هدایت موافق تطبیق شي خو د تطبیق په وخت کي دي هیچا ته د ویډیو کولو اجازه نه ورکول کیږي او که چا د تعزیر بالضرب (دُره وهلو) په وخت کي ویډیو کوله د محاکمو منسوبین په جدي ډول مکلف دي، په هره ممکنه اصولي لار چي کولای شي د ویډیو کولو مخه دې ونیسي.

په درنښت

۱۴۴۴/۴/۲۵

مفتي عبدالرشید "سعید"

د ستري محکمې

د دارالانشاء عمومي رئیس

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء